
بِسمِ اللهِ الرَّحمنِ الرَّحِيم
د مولانا سعيد افغاني د سولې او تفاهم، نشراتي ارګان
www.said-afghani.org
آزاده، تولنيزه، علمي ، فرهنګي و نشراتي ارګان
Dr.Said Afghani
د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



ايمل « مروند »
د نشر نيټه : ۲۷ مارچ ۲۰۱۳ ميلادی

# ختيځ ادبي بهير ملګرو خپله ۳۶ مه اونيزه ناسته ترسره کړه

ختيځ ادبي بهير ملګرو خپله ۳۶ مه اونيزه ناسته د ((۱۳۹۲)) کال د (۱)مياشتې په (۲) مه نيټه د تل په څير د جلال اباد ښار د ميډوتيک په انګړ کې ترسره کړه.
غونډه د جمعې په مبارکه ورځ سهار نهه بجې محمود خزان د قران پاک د څو مبارکو اياتونو پر تلاوت پيل کړه.
د مشرانو ميلمنو پر څوکيو صابر شينواری او استاد عوفران الله ناست وو، د دريځ چارې دوست محمد دوست مخکې ورلې او ګزاش ايمل مروند ليکه.
په سر کې د تيرې اونيزې ناستې راپور مروند ولوستلو او د ملګرو لخوا داد ورکړل شو.
د توکو د ارزونې په برخه کې د ژمنې سره سم بختيار ساحل خپله نثري ليکنه د (( يو تحلص او څو څيرې)) تر سرليک لاندې ارزونې ته وړاندې کړه.
د ارزونې او خبرو پيل پرې ضياالدين همت مل وکړ، وې ويل ساحل کمال کړی دی او ډېره زياته خوندوره ليکنه يې کړې، په خبره يې ځينې داسې بېلګې او اشحاص يې ياد کړي وو، چې ورته جالب او خاطرې يې ورته ډېرې په زړه پورې وې.
نهضت شيرزاد، برهان الدين سيرت او احمد جمال جمال هم د ساحل د يو تحلص او څو څيرو ستاينه وکړه، جمال وويل : (( ساحل ريښتيا هم کمال کړی دی او ډېره يوه ښکلې ګلدسته يې د عابدانو جوړه کړې وه، چې لوستونکې او اوريدونکې يې تر پايه له ځان سره ساتلو)).
اميد خيران که څه هم ليکنه خوښه کړه، خو (( دا عابد دومره په وطن مين دی، چې چې هره مسله په دومره رنګينو الفاظو خلکو ته وړاندې کوي چې د خلکو پام ورته وراړوي)). له انده يې دا جمله په دې مانا ده که کوم څوک د الفاظو رنګيني ونه لري هغه به په وطن مين نه وي يانې د عابد په وطن مينتوب د هغه د الفاظو په رنګينيو پورې تړل شوي دي.ممکن ځينې داسې کسان وي چې په وطن مين وي خو د الفاظو رنګيني ونه لري.
ايمل مروند هم د ساحل راټولې کړې څيرې خوښې کړې، له انده يې د ليکنې د قوت ټکې په همدې کې دی چې ساحل سره څلور واړه عابدان ډېر ښه راخيستي او ليکنه يې داسې کړې ده، چې تر پايه لوستونکې په ډېره مينه له ځان سره ساتي.
د نوموړي په باور د داسې ليکنې کول ساحل يو نوښت کړی دی او که همداسې دا لړی پسې وغځوي، نو يو لوی کار به يې کړی وي ځکه ساحل د نثر ښه ژبه لري او دې لړی ته دې دوام ورکړي.
نوموړي د خيران خبرې ته په اشارې سره وويل: ((عابد دومره په وطن مين دی، چې چې هره مسله په دومره رنګينو الفاظو خلکو ته وړاندې کوي چې د خلکو پام ورته وراړوي)).(( د دې جملې نه

دلته د ساحل موخه داده چي عابد وطن سره د بې کچې مینې له امله هره ورځه او غټه مسله په ډېر ژور ډول او رنګینو الفاظو لیکي)).
استاد عبدالله اغیز وویل که څه هم لیکنه ډېره ښکلې ده، لکه ټولو ملګرو چې خوښه کړه، خو یوازې یو څه اوږده وه او که لګه هڅه وکړي او رالنډه یې کړي لا به ښه شي.
مصور هم د لیکنې ډول خوښ کړ، په وینا یې ساحل کمال کړی او لیکنه یې ډېر ښکلې لیکلې ده ځینې ځایونه په کې طنز هم شته دی چې د لیکنې خوند یې زیات کړی دی.
دوست محمد دوست بیا دې سره همغږی نه وو، چې لیکنه دې لنډه شي، په وینايي که له دې لنډه شي نو بیا به په کې ځلور واړه عابد صاحبان راونغاړل شي.
صابر شینواري بیا ویل، چې دا لیکنه یو څه خاکې ته ورته ده او که ساحل لګه خواري وکړي، نو یوه ښه ښاکه ترېنه جوړیدای شي.
په وینا د لیکنې نه د لیکوال د نثر لیکلو قوت ښکاره شو، چې لیکوال ډېر ښه نثر لیکل شي او د ښه نثر د لیکلو وړتیا لري، نوموړی دا ډول لیکنې ډېرې زیاتې ارزښتناکې وبللې.
شینواري ټینګار کولو چې باید خاکه ترېنه جوړه کړي، خو نور ملګري ورسره هغمږي نه وو او ویل یې چې په همدې ډول دې پاتې شي او داسې ډېره خوندوره راغلې ده.
اغیز بیا ویل، چې ښاکه ((ا دبي انځور )) په یو کس لیکل کیږي، خو دا په څو کسانو لیکل شوې ده او که همداسې پاتې شي، نو خوند به یې هم ډېر وي او تر دې ورانديې هم ځینو لیکوالو ورته لیکنې کړې دي.
خو صابر شینواري تر اخره په خپله خبره ولاړ او ټینګار یې کولو که چیرې ته یې سره جلا جلا کړي او په هر یو تن ځانګړې خاکه ولیکي ښکلې راشي. ولې بیا هم ورسره ګڼ شمیر ملګري همغږي نه وو او ویل یې چې د ساحل لیکلې لیکنه ښکلې ده او په ډېر ښکلې انداز سره لیکل شوې ده او همداسې دې پاتې شي.د هغوی په وینا که چیرته په هر کس جلا جلا لیکنه وشي نو بیا به یو ډول تکراري او سولیدلي لیکنه شي لکه مخکې چې هم ګڼ شمیر نورو لیکوالو دا ډو لیکنې کړې دي.
د اروزونې په پای کې د لیکنې لیکوال بختیار ساحل ته بلنه ورکړل شوه، نوموړي له ټولو ملګرو مننه وکړه چې پرلیکلې لیکنه یې ورته خبرې وکړې.
او ورپسې یو ازاده مشاعره شوله چې دغو ښاغلو په کې خپل شعرونه وویل:
د غونډې په پای کې د ناستې مشر میلمه صابر شینواري ته بلنه وکړل شوه، نوموړي د بهیروالو مننه وکړه، چې د میلمه پر ځوکې یې کینولې او غونډه یې ډېره ښه وارزوله زیاته یې کړه ډېره ښه غونډه وشوه او ډېر ښه بحث په کې وشو، چې ورته په زړه پوری و. او بیا یې خپل یو شعر هم بهیروالو ته واورولو.
د غونډې په پای کې وټاکل شوه چې راتلونکې اونۍ به د خوانیمرګ شاعر سید زمان قسمت یاد تازه کوي.
غونډه غرمه ناوخته پای ته ورسیدله.

ریپورټر: ایمل « مروند »

www.said-afghani.org – بازگشت به صفحه اصلی